سلطان جان کلیوال ۲۰۱۸/۰۵/۰۴

# زمونږ د ملت په هکله:

یو څو ورځې د مخه مې تردې سرلیک لاندې چې:(دا مونږ څنګه ملت یو؟) یوه وړه لیکنه کړې وه. دا لیکنه د فسبوک له پاڼې پرته د ( افغان ـ جرمن) او (آریانا افغانستان) په ویب سایټونو کې چې دواړه ملي ویب سایټونه دي او په لکونو لوستونکي لري، هم نشر ته سپارلې وه. هیله مې داوه چې درانه لوستونکي به حتمي ددې پوښتنې په هکله د خپل تحلیل له مخې یوڅه ولیکي او په هغه څه کې به یوه اندازه زیاتوالی راشي چې زه یې د دې ملت د پیژندنې په برخه کې د ځینو د لایلو له مخې د ځان سره لرم.

د دې لیکنې د نشریدو نه ښایسته ډیر وخت تیر شو خو یوه محترم لوستونکي هم د عامو تبصرو نه پرته چې ښه لیکنه ده، په قلم دې برکت شه اوداسې نورو معمول خبرو نه غیر د دې ملت د ښې پیژندنې د پاره هیڅ هم ونه لیکل یواځې یوه دوست ښاغلي ځاځی صاحب له مانه و غوښتل چې په دې هکله خپل نظر د نورو سره شریک کړم. زه پوره باور لرم چې د دې ملت په هر قوم کې ډیر پیاوړي پوهان، استادان، څیرونکي او د ټولنپوهنې عالمان شتون لري چې، دې پوښتنې ته چې (دا مونږ څنګه یو ملت یو؟) له هره اړخه ښه او د قناعت وړ ځواب لري چې له مونږ سره د دې ملت په سمه پیژندنه کې مرسته کولی شي، خو ممکن یا به دا پوښتنه ورته دومره مهمه نه ښکاري چې وخت پرې و لګوي او یاه به نور مصروفیتونه ،په وطن کې روان ناوړه حالات او تاوده بحثونه ورته اجازه نه ورکوي چې په دې برخه کې خپل نظر د نورو سره شریک کاندي. په هر صورت خبره به را لنډه کړو او زه به دې پوښتنې ده د ځواب ورکولو په پلمه خپل نظر د تاسو درنو لوستونکو سره شریک کړم، که مې په کومه برخه کې سمه ارزونه نه وي کړې هیله ده چې مرسته را سره وکړې.

افغانان میلمه پال، زړور، باحیا،پاک زړی، مینه ناک او باننګه خلک دي. ډیرداسې نور ځانګړي نیک صفتونه لري چې د نورو ټولنو په انسانانو کې به یا نه وي او یا به کم وي. زه نه غواړم چې دلته د افغانانو په ټولو هغو نیکو اوصافو باندې چې دوی لري اوږدې خبرې وکړم، بلکې غواړم چې د دوی په ځینوهسې نیمګړتیاوو و غږیږم چې ددوی په ژوندیې ناسمې اغیزې کړیدي.

افغانان د ټولو نیکو او ښو صفاتو سره سره، د خپل ټولنیز ژوندانه د جوړښت او سمښت په برخه کې ځنې داسې نیمګړ تیاوې لري چې بیا به هم د نورو ملتونو په انسانانو کې یا نه وي او یا به کمې وي ، او تر کومه چې زه ورباندې پوهیږم دا کمبوتیانې په دې توګه دي:

۱ ـ افغانان ساده خلک دی، د ورځنی ژوندانه اصول یی تر ډیره حده په لفظ او قول بنا شویدی، او دا هم ځکه چی د لیک لوست نه محروم دی. شفاهی قوانین او نا لیکلی اصول تل د تفاوتونو او تغیراتو سره یوځای وی. نو له همدی امله د لفظ او قول ماتیدل د دی یو سبب جوړیدای شی چی د دوی تر منځ بی باوری او بی اعتمادی د یوی ورځی نه بلی ته ډیریږی او دوی د یوه مشترک هدف د تعین او هغه ته د رسیدلو د پاره واحد عمل ته نه پریدی.

۲ ـ د افغانانو د ژوند زیاته برخه یا د پردیو سره او یا په خپلو منځونو کی د رنګ رنګ دښمنیو له کبله په په جګړو کی تیره شویده، او چیرته چی جنګ وی نو بیا خو، بی د دلیل له وړاندی کولو نه دآ د پوهیدو وړ خبره دی چی هلته بدمرغی په پرله پسی توګه د انسانی ژوندانه لمنی ته را لویږی او فقر او ناداری یی د معیاری ژوند دجوړیدلو اجازه نه ورکوی. فقر ناداری او تنګلاسی بیا د دی سبب جوړیږی چی انسان د مجبوری حد ته ورسوی، او سړی چی مجبور شی نو بیا ورنه د دی تمه لرل سمه نه ښکاری چی د ټولنیزو اصولو د پاره تا کل شوی حدود دی په سمه توګه مراعات کړلی شی، اوکله چی دا حدود مات شی نود ټولنیز ژوند د پرمختګ د پاره ټولی دروازی بندیږی.

۳ ـ دا پورته دوه نیمګړتیاوی بیا د دی لامل کرځیدای شی چی زمونږ د ملت په ځیر ملت، پوخ سیاسی شعور ونه لری او دزمانی د غوښتنو سره سم د خپل ملت د هر اړخیزو غوښتنو د پوره کیدو په برخه کی پاتی راشی.

۴ ـ کله چی د نړی د نورو هوښیارو ملتونو سیاسیونو، زمونږ د ټولنی په دی کمبوتی باند خبرتیا تر د لاسه کړیده نو په ډیر دقت سره یی په دی برخه کی کار پیل کړیدی چی د کومو کومو طریقو په استعمال سره دوی کولی شی چی په اسانی سره زمونږ د ټولنی د مشرتابه د پاره داسی کسان غوره کړی او د دی هیواد د قدرت واګی ور وسپاری چی د دوی ګټی د هغوی په واکمنی کی په ښه توګه تا مینیدلی شی. په دی برخه کی د مثال راوړلو ته اړتیا ځکه نشته چی زمونږ ټول تاریخ له دی ډول دسیسو او توطئو نه ډک دی.

۵ ـ کله چی دا د نورو له خوا زمونږ په ملت باندی نازل شوي زعامت په کار باندی پیل کړی نو تر ټولو لومړی کاریی دا کړی چی، نور دا ملت ورته د دی وړ نه دی ښکاری چی په دوی باندی تکیه وکړی او د دوی په مټ د خپلو سر شارو طبیعی شتمنیو څخه د خپل ملت د پاره ګټه واخلی. دی زعامتونو په هماغو قدرتونو باندی تکیه کړیده چی دوی قدرت ته رسولی دی. که د دی تر څنګ د نړی نورو هیوادونو د افغان ملت سره کومی بشری مرستی هم کړیدی، د ملت په درد ځکه نه دی خوړل شوی چی هغه هم که ټولی نه وی نو لویه برخه یی د همدی واکمنانو له لوری چور او چپاول شویدی او د دولت او ملت تر منځ دومره واټن جوړ شویدی چی که ډیر کار هم پری وشی دا فاصله په اساني سره له منځه تلونکی نه ښکاری.

۶ ـ په دی کی به شاید هیچا ته کوم شک په زړه کی نه وی چی د دنیا د بل هر ملت نه د مذهبی روحانیت نه د ناسمی ګټی د پورته کونی ناوړه تاثیرات زمونږ په ملت ډیر پاتی شویدی او دا ملت یی د بل هر ملت نه د ډیرو بدمرغیو سره مخامخ کړیدی. د مذهبی روحانیت په ګدی ناستو د نورو هیوادونو نه دی خاوری ته راغلو مشایخو دومره د افغانی ټولنی د انسان دماغ مسموم کړی دی چی بل هیڅ تیری او تجاوز به نه وی تخریب کړی. تاریخ و ګوری! د دی جاسوسانو په ټولو کرغیړنو عملونو زمونږ د هیواد دتاریخ د نیم نه زیاتی پاڼی د دوی په غداریو باندی ډکی دی او لا هم په ډیر شدت سره دوام لری. خو داچی هم زعامتونه بیګانه دی او هم دا نازل شوی ناپاک مذهبی مشایخ پردی دی

او د مخنیوی چاره یی د ملت سره ځکه نشته چی ملت دوی یرغمل کړی دی نو په خلاصو لاسو هره جفا چی و غواړی په اسانۍ سره یی سرته رسوی.

۷ ــ اوس نو دا پوښتنه که په سلو کی سل سم نه وی نو تر ډیره حده سمه ځوابیدلی شی چی (دا مونږ څنګه ملت یو؟) او هغه دا چی:

۸ ــ مونږ زړور، باتور، ایماندار، میلمه پال، باحیا، مینه ناک او پاک زړی ملت یو. خو د تاریخ په ټولو اوږدو کی د داسی یوه ملی زعامت لرونکی نه یو ګرځیدلی چی زمونږ د ایمانداری او د وطن د آبادی سره د مینی په قدر و پوهیږی ، هغه په کار واچوی او د هغو ملتونو قطار ته مو ور ورسوی چی په خپل مټ د ژوندانه چاری پر مخ بیا یی.

۹ ــ همدا پورته یوڅو زکر شوی او داسی څه نور عوامل د دی سبب ګرځیدلی چی همدا د پردی نوکر دولتی زعامت د دی واحد ملت ورونه قومونه د خپلو غرضونو د پاره په بیلو بیلو نومونو یو د بل نه سره لری و ساتی، او حتی یو د بل په مقابل کی یی د دښمنی تر بریده پوری استعمال کاندی، د دوی له بی اتفاقی څخه د نړیوالو مافیه وی ډلو سره د هر ډول معاملو میدان ته ور ودانګی او په ډیری بی ننګی سره د افغانی ټولنی ټول ویاړونه او ګټلی نیک نومونه د ورکاوی سره مخامخ کاندی.

۱۰ ــ وروستی او تر ټولو مهمه خبره ما ته دا ښکاری چی د وطن هغه روښانفکران مشران چی د خپل ملت سره، د خپل وطن سره، د خپلی افغانی ټولنی د عزت او شرف د ژوند سره او بلاخره د دی ملت د راتلونکی نیک مرغۍ سره مینه لری او زړه یی د همدی ستر ارمان د پاره په سینه کی ټوپونه وهی، ټول په شریکه د خپل وطن د ځوان نسل ذهنونه د فاسدی کورنۍ رهبرۍ د ناوړه استعمال، د پردیو د جاسوس او کاذب روحانیت او د افراطی ناپوهو دینی مرشدانو له پریمنځلو نه وژغوری او دی ته یی را و بولی چی د دوی بری د دوی په یو والی او د دوی یو بل ته په لاس ورکونی کی نغښتی نه په لاس پری کونه کی. د اوس د پاره زمونږ د ملت پیژندنه همداده چی د دی ملت انسانان یو د بل سره د دښمنی میدان ته راوتلی او پریدی یی په شاټپوی. زما په فکر تر هغی به دا مقابله روانه وی تر څو چی یو پربل د بی اعتمادی پر ځای باور ونه کړی او د کرکی پر ځای یو د بل سره مینه ونه لری.

زه خو همداسی فکر کوم، چی تاسوبه یی سم ګڼی او کنه؟ نه ورباندی پوهیږم. (۲۰۱۸/۰۵/۰۲)